م. داؤد اڅک
۱۲جون ۲۰۲۴


## د چکوش واري

تقريباً درې کاله کېږي چي واکمنو انډيوالانو ته په شعرونو او ليکنو کي اصلاحي وړانديزونه کوم، چي ګوندي خداى نن به عمل په وکي سبا به عمل په وکړي. مګر واکداران نه دا چي زما په کيسه کي ندي بلکه د مظلوم افغان ولس او نړۍ پروا هم نلري، ګرسره سر نه خلاصوي چي اولس څه غواړي او ټولنه څنګه پرمختګ کوي. خو زه ئي هم نه پرېږدم (ماندن والايش نيستم). تر څو چي ژوندئ يم او ګوتي مي قلم نيسي د خپل مظلوم ولس ږغ به پورته کوم او د خداى حق به وايم، دردونو او تېپونو ته به اصلي ملحم معرفي کوم. يعني هم به پر واکمنانو او هم به د نړۍ پر تېکه دارانو باندي ټينګ ټينګ چوکشان واروم. نو دا تاسو او دا هم زما:

## د چکوش واري

چي د علم ډېوه بل نـه وي تياره وي پر جنـت وي، پر کابل که پر کعبه وي
دسترخـوان که ډک له ډېرو نعمتو وي هر نـعمـت هـره ګوله به بې مزه وي
الله نـلـري هـيـڅ نـياز شاندار مسجد ته مؤمـن هغه چي پر زړه ئي سجده وي
تر ښوونځيو چي ئي ډېري مدرسي سي د تـيـاري راتـلـونـکي لـويـه نـښانه وي
افـغـانـي پـيـغـلي بـه هلته په عزت وي چي پـه عـلـم او هـنر دوئ اراسته وي
د تـقـوا سـتني به ورځ په ورځ کړېږي چي مـو زورهم عدالت هم محکمه وي
سـرکان ښـه ميـدانـونه هلته خوند کړي چي خپل جوړ مو هم موټر هم طياره وي
علم موټر دئ، طياره ده، ښـه توپک دئ که علم نه وي ټوله ژونـد به محتاجه وي
چي ډېـوال په کرامت راته روان کړي نې منم، چي د ښونځي در دي بسته وي
تـه کـه سـر وهـي د غره سره وهه يه خـو بـې عـلـمـه سـر وهل کودکانه وي
د داؤد چکـوش تـه ځان ټينګ که يارو
چي هر وارئ ئي ملاک او دوستانه وي

*****

م. داؤد اڅک

۱۱ ـــ ۶ ـ ۲۰۲۴